# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## په روسيه کې بله پوليسي محکمه

## (ژباړه)

د ۲۰۱۹م کال د اپریل په ۲٦مه پريوولسکي نظامي محکمې د حزب التحرير پنځه تاتاريستاني غړي محاکمه کړل. قاضي دغه کسان د روسيې فدراسيون د قوانينو له مخې په «ترهګرۍ» تورن کړل. محاکمه شوي کسان دا دي:

ګيمازيدينوف انس، په ۱۹٦۵م کې زيږېدلی، د ملي امنيت په زندان کې په ۱۸ کال بند او يو کال نه ګرځېدو محکوم شو.

محمدوف اريک، په ۱۹۸۸م کې زيږېدلی، د ملي امنيت په زندان کې په ۱۸ کاله بند او يو کال نه ګرځېدو محکوم شو.

زجيف عزت، په ۱۹۹۰ م کال کې زيږېدلی، د ملي امنيت په زندان کې په ۳ کاله بند محکوم شو.

خانانوف رينات، په ۱۹۸٦م کال کې زيږېدلی، د ملي امنيت په زندان کې په ۱۳ کاله بند محکوم شو.

شانګريف ايمل، په ۱۹۹۳ م کال کې زيږېدلی، د ملي امنيت په زندان کې په ۱۳ کاله زند محکوم شو.

د محاکمې پر وخت شبابو وويل: د «ترهګرۍ» تور په بشپړه توګه دروغ دی او ښايي پټ شاهدان هم د امنيتي ادارو کارکوونکي وو. همداراز، قاضي د تورونو د لېرې کولو لپاره هره کړنه رد کړه او خپله پرېکړه يې داسې ولوستله لکه هېڅ چې په ځير ځېړل شوې نه وي.

په دې توګه روسيه د اسلامي امت د ريښتينو بچو بندي کولو ته دوام ورکوي؛ خو سره له دې بيا هم د امت بچيان وېرولی نشي. زموږ شبابو د پنجرو تر شا هم اسلامي دعوت لېږداوه. د محکمې پر وخت يې د اسلام پر حاکميت ټينګار کاوه او د دغه ناعادلانه  پرېکړې د اورولو پر مهال يې قران تلاوت کاوه، څو د پرېکړې پر وړاندې خپله بې تفاوتي وښيي.

د روسيې دولت لخوا دا څورونې نه يوازې له اسلام سره د دوی کينه ښيي، بلکې د حزب التحرير د غړو سياسي څارنه هم څرګندوي. د قضيې د اسنادو له کتنې وروسته د بشري حقونو دفتر د دغو کسانو نومونه په روسيه کې د سياسي بنديانو په لېست کې زيات کړل. قاضی دنيس ګوډکوف پر خپله فيسبوک‌پاڼه وليکل: «قاتلين؟ تجاوز کوونکي؟ غله؟ نه، دا سياسيون دي. دوی ته يوازې په روسيه کې «ترهګر» وايي ... خو دوی ډېر ښه کسان دي.»

**په روسيه کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د شعبان ۲۱مه**

**۲۰۱۹م کال، د اپرېل ۲۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۰۷**